نصیر احمد څپاند ۲۰۱۶/۰۱/۲۶

د ځوانانو د بې روزګارۍ عوامل

په ګران هېواد کې د موجودو ستونزو تر څنګ، یوه هم د ځوانانو د وزګارتیا ستونزه ده، چې له تیرو څو کلونو څخه زموږ ځوانان ورسره مخامخ دي. دا ستونزه ورځ تر بلې زیاتیږي او د نړیوال بانک د تازه رپوټ پر اساس، په هېواد کې د ۱۶ میلیونه خلکو په شاوخوا کې د کار ځواک شته چې له دې جملې یوازې ۳ میلیونه افغانان روزګار لري او پاته ۱۳ میلیونه هېوادوال یا کوچني او یا هم هیڅ ډول دندې او روزګار نه لري. د کار نړیوال سازمان (ILO) وایي چې ګڼ مسلکي ځوانان یا نیمه ورځ کارکوي او یا هم په غیر مسلکي کارونو کولو اخته دي. رپوټ زیاتوي چې په نړۍ کې د ۱۵ څخه تر ۲۴ کلنو پوري د ځوانانو د بې روزګارۍ کچه تر ۱۳ سلنې پورته شوې. د داسې ځوانانو شمیر په ټوله نړۍ کې تر ۷۵ میلیونو تنو پوري رسیږي چې کار نه لري. په ترتیب سره په منځنې ختیځ کې ۲۶،۵ سلنه او په شمالي افریقا کې ۲۷،۹ سلنه د ځوانانو د وزګار تیا کچه لوړه شوې ده. په هسپانیا کې د ۲۶ کلنو څخه په ټیټ عمر ځوانان سم نیمایي بیکاره دي، زموږ هېواد افغانستان کې د بې روزګارۍ عوامل زیات دي، اما زه یې څو مهمو عواملو ته په لاندې توګه ګوته نیسم:

۱- افغان حکومت نه دی توانېدلی چې د ځوانانو له پاره د کار پیدا کولو یوه جامع ستراتیژي او پلې کېدونکی پروګرام جوړ کړي،

۲- په ادارو او کار ځایونو کې د پوهې، مسلک او اړتیا پر بنیاد نه، بلکې د روابطو، بډو ورکولو، واسطې او نورو ناوړه لارو چارو پر بنسټ د دندو او حرفو ویشل، چې ستر فساد یې زیږولی،

۳- د هغو پروژو او پلانونو نه بشپړول چې ځوانانو ته د کار پیدا کولو لامل ګرځي، له دې کبله انکشافي بودجه نه مصرفیږي او په غیر مستقیمو لارو د دولتي مافیایي کړیو جیبونو ته ځي.

د کار د نشتوالی اغیزې:

۱- د سیاسي او اقتصادي کړکیچونو زیاتوالی د انساني قاچاقو د لیږد مافیا ته زمینه برابروي، چې ډیرې ځوانان له هېواد څخه تېښتې ته زړه ښه کړي او په بهر کې د افغان کډوالو د ستونزو لرونکو ټولنو سره یو ځای شي.

۲- ځوانان د دې پر ځای چې د وزګارتیا د عواملو د مالومولو په لټه کې شي ، په نشو کولو او د مخدره موادو په استعمالولو اخته کیږي. د دې پر ځای چې دا فعال ځواک د ټولنې ستونزې حل کړي، په خپله د ټولنې پر اوږو بار پریوزي

۳- بې روزګاره ځوانان د زیاتو ستونزو د درلودلو له وجې زده کړو، په تیره بیا لوړو زده کړو ته زړه نه ښه کوي، د مالي ستونزو له وجې خپل مالي مهارتونه نشي زیاتولی. حل لاري څه دي؟

تر هر څه مخکې حکومت ته لازمه ده، چې د ټولنې د فعالې نیرو په توګه ځوانانو ته د کارموندلو موضوع د خپلو پلانونو اهمه موضوع وګرځوي. په خپله حکومت د دولتي سکټور په چوکاټ او د خصوصي سکټور د امکاناتو په رڼا کې ځوانانو ته د نوې پروژو د جوړولو په ترڅ کې کارونه او روزګار برابر کړي.

د دې له پاره چې ځوانانو ته زیات کارونه ومندل شي، د زده کړو تر څنګ ځوانانو ته د لنډ مهاله حرفوي زده کړو لکه: رنګمالي، نجاري، وایرنګ کاري او نور کورسونه جوړ کړي. دا ډول زده کړې له یوې خوا کسبونه د عنعنوي بڼې څخه راوباسي او په عصري توګه یو لړ خدمات خلکو ته وړاندې کیږي او له بلې خوا کسبګر ښه عاید تر لاسه کوي.

د لنډ مهالو کورسونو د اخستلو په لړ کې یو شمیر ځوانان د خپلو مهارتونو د زیاتولو په موخه عالي زده کړو ته مخه کوي او دا لامل په ټولنه کې د عالي زده کړیوالو شمیر زیاتوي چې د ټولنې په فرهنګي کچه مثبته اغیزه کوي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ